څوک چې ددرېو جمعو لمونځونه د غفلت له امله پرېږدي، نو الله تعالى به يې په زړه باندې مهر ولګوي

له ابو جعد ضمري رضي الله عنه څخه روايت دى، كوم چې يو صحابي و، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "څوک چې ددرېو جمعو لمونځونه د غفلت له امله پرېږدي، نو الله تعالى به يې په زړه باندې مهر ولګوي".

[صحيح دى] [أبو داود، الترمذي، النسائي، ابن ماجه او أحمد روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعې د لمانځه د نه ادا کولو په اړه خبردارى ورکړى او دا چې څوک د سستۍ او غفلت له امله پرته له عذره درې ځلې د جمعې لمونځ پرېږدي نو الله تعالى به يې زړه باندې مهر ولګوي او وبه يې پوښي چې خبر ورته ونه رسېږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65768